Schweizerische Eidgenossenschaft
Confédération suisse
Confederazione Svizzera
Confederaziun svizra

Swiss Agency for Development
and Cooperation SDC

Institute of Development Studies

خـــیړنې د بنه افغانســـتان لپاره
AREU

د ۲۰۱۸ کال دجنوري میاشت
ډاکتر یما ترابي

# ښاري خوندیتوب:
# په افغانستان کې د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته یوه بیاکتنه

## سریزه

په افغانستان کې د پالیسي په چاپیریال کی، د ښاروالي په بودجې کې دننه او له هغې څخه بهر  پروګرامونو او اداري قواعدو او اجرااتو کې د ښاري خوندیتوب مفهوم په نسبي توګه نوی بریښي. په وروستیو شپاړس کلونو کې د چټک ښاریتوب بهیر ځانګړې زیان منونکی، محرومیت او نه خوندیتوبونه رامینځ ته کړي دي. هغه ټولنیز ښاري جوړښت چې پخوا ئې شتون درلود او تریوې کچې ئې د یووالي او امنیت احساس ډاډمن کاوه د ډیرو لویو ښارونو په مرکزونو کې له مینځه تللی دی. په پایله کې ښځې او ځوانان له ځانګړو امنیتي خطرونو سره مخامخ شوي دي. ډیر عمده ښارونه د غیر رسمي (بی نظمه، ګډوډ ) میشت کیدلو او دننه بې ځایه کیدونکو په لنډ مهاله استوګن ځایونو باندې بدل شوي دي. ښاریان د ښاري خوندیتوب په ښه والي کې ونډه نه اخلي. د ښاري خدمتونو د وړاندې کولو ظرفیتونه ددې وړتیا نه لري چې د چټک ښاریتوب سره ځان عیار کړي او د ښاري حکومتولۍ پالیسي لاتراوسه د جوړیدو په بهیر کې دي.

د **۲۰۱۲** کال په وروستیو کې د **ښاري پراختیا عالي شورا د ښاری لومړیتوب ملی پروګرام** (U-NPP) جوړ کړ چې اوس د راتلونکې لسیزې لپاره د ښاري سکتور د پروګرام او پالیسي په توګه په کاریږي. د(U-NPP) پروګرام د شمولیت، پرمختیا او ټیکاو لپاره یوه لویه آجنډا ده. نوموړی پروګرام درې رکنونه لري: د ښاري حکومتولۍ او اداري د جوړښتونو غښتلي کول؛ د ټولو لپاره د مناسبو کورونو او ښاري خدمتونو برابرول؛ او د ښاري اقتصاد او بنسټیزو جوړښتونو غښتلي کول.U-NPP ، په ښاری پلان جوړولو او ډیزاین جوړولو کې ښاري خوندیتوب د اساسي اجنډا په توګه منلی ده. د(U-NPP) د حکومتولۍ تګلاره د خوندیتوب او په امنیت باندې د غور کولو او پرمختیا پربنسټ ولاړه ده او د امنیت او خوندیتوب موخو ته د رسیدلو لپاره په ښاروالۍ کې د ټولنې پربنسټ په سلا کارو بوردونو کې دفرعي کمیټو د جوړولو لپاره کار کوي.

**په افغانستان کې د ښاري سولې پروګرام** (AUPP) د **ملګرو ملتونو د هبیتات د اداری** له خوا د **۲۰۱۵** کال له پیل څخه راهیسې په اتو ولایتونو کې د یوه مخکښ نوښت په توګه رامینځ ته شوی دی چې په ښاري خوندیتوب او امنیت باندې تمرکز لري. نوموړی پروګرام د وړوالي د ستونزو په تشه او د ټولنې د محدود ګډون په شرایطو کې خدمتونه (ښاري خدمتونه) وړاندې کوي.AUPP  د لیبرالي نظریې ددې انګیرنې پربنسټ ولاړه ده چې یو دولت پرته له یوه ټولنیز هوکړه لیک څخه فعالیت ترسره کولای نشي. د پایلې په توګه، AUPP له ټولنو او ښاروالیو سره په ګډه کار کوي ترڅو دواړه خواوې د ګډ پلان جوړونې او د خدمتونو د چمتو کولو دنده ترسره کړي. په افغانستان کې د ښاري سولې پروګرام (AUPP) نظریه داسې ده چې سیمه ایزه اداره او ټولنه کولای شي پر یو بل باور وکړي او په ښاري سیمو کې امنیت او خوندیتوب رامینځ ته کړي.

ددې پالیسي د یادښت موخه دا ده چې  په افغانستان کې د ښاري سولې پروګرام  (AUPP) د موندنو او وړاندیزونو د لومړۍ مرحلې د بیاکتنې لنډیز چې د AREU او د **پرمختیائي څیړنو د انسټیټوت** (IDS) له خوا ترسره شوي او تمویل ئې د **پرمختیا لپاره د سویس د همکارۍ** (SDC) موسسې په غاړه اخیستی دی، وړاندې کړي.

## میتودولوژي(څیړندود )

د پروګرام په اړه د شته سندونو او په افغانستان کې د ښاري حکومتولۍ په هکله د پراخو لیکنو او په اداري کې د میزی بیا کتنې دا امکان برابر کړ چې د هغو پوښتنو او موضوعګانو پیژندل آسانه کړي چې له عمده شریکانو سره د مرکو(په ټوله کې ۱۲:مرسته کوونکو، حکومتي چارواکو او نورګډون کوونکو ) او له ګټه اخیستونکو دوه ډلو سره د خبرو اترو په بهیر کی سپړل شوې وې. په اداري کې په بیاکتنه کې د پروژې سندونه، عملیاتي او کلني راپورونه، بنسټیزې سرویګانې، بهرنۍ پلټنې، دلیدلو وړ او د ظرفیت پراختیا ئې توکي، د پالیسي سندونه، د څیړنې راپورونه او دملي سرویګانو سندونه، شامل وو. دې خبرې د څیړونکو له ډلې سره مرسته وکړه چې جوته کړي چې مالومات څنګه راټول شوي وو او د پروګرام په پلي کولو کې له هغو څخه څنګه ګټه اخیستل شوي وه. اغیزمن سندونه د ښاري حکومتولۍ څو اړخیزه ځانګړتیاوې او د مداخلو او ستونزو غښتلتیا او هغه کمزورتیاوي رابرسیره کوي چې ښائي پرهغو باندې بریالیتوب تر لاسه شي. دا موضوع نورې داسې څرګندونې هم کوي چې ښاري خوندیتوب او امنیت هغه پراخې موضوعګانې دي چې د ښاري حکومتولۍ د مداخلو لپاره په زړه پورې بهیر رامینځ ته کوي.

## عمده موندنې

**د پالیسي اړوندتیا:** د AUPP تګلاره، موخې او لاس ته راوړنې له اوسنیو پالیسیو او په ځانګړې توګه له U-NPP ، ANPDF او تر یوې کچې په ښاري سیمو کې د ولسي تړون **منشور** له بیلګو سره اړخ لګوي. د ټولنې منځنۍ تګلاره چې د ټولو وګړو – ښځو، ځوانانو، په دننه کې د بېځایه شوو کسانو- په ګډون او له لوړو کچو (د ګذر شوراګانو، د ولسوالی پلانونو) سره په اړیکو باندې ټینګار کوي، د افغان حکومت له خوا د پالیسی د موخو په تعقیب کې ونډه اخلي.

**د زده شوو درسونو یو ځای کول:** برسیره پر دې، AUPP له NSP څخه زده شوي درسونه، په ښاري یووالي کې د کارکونکو خپلې تجربې او د نورو ښاري پروګرامونو د مداخلو تجربې سره یو ځای کړې دي. په دې توګه، AUPP د راتلونکو ښاري پروګرامونو د پرمختیا لپاره داسې یوه بیلګه ده چې د ټولنې پربنسټ ولاړ داسې پروګرامونو باندې تکیه کوي چې له ولسوالۍ او ښاري پلانونو او جوړښتیزو پلان جوړولو سره اړیکه لري.

**د خوندیتوب او امنیت په اړه د نظرونو پراخول:** AUPP ددې وړتیا لري چې د پولیسو، ټولنو او پالیسي جوړونکو په مینځ کې د ښاري خوندیتوب او امنیت په هکله نظرونه له پولیسو څخه بهر هم پراخ کړي. AUPP ددې نظریې په پراخولو کې ونډه اخیستی ده چې د خوندیتوب ستونزه له پاسه څخه کوز ته د یوه مفهوم په توګه وپیژنې او ډیر ځلې (او په اکثرو مواردو کې) هغه په ټولنه کې د اړتیا وو په اړه د کمزورو او نرمو ستونزو پرځای د وسله وال یا غیتوب په مانا وګڼې.

**په ښاري خوندیتوب کې څرګنده ونډه اخیستنه:** AUPP د ښاري خوندیتوب او ځانګړو نه لمس کیدونکو کوچنیو او منځنیو بنسټیزو پروژو ترمینځ غښتلې اړیکه رامینځ ته کړې ده. وروستی داخبره په ډیرو مواردو کې یو مجرد او ذهني نظر دی. په هر حال، د ستونزو په پیژندلو او په ټولنه کې د بنسټیزو جوړښتونو او ښاري خوندیتوب د مفهوم په رامینځ ته کولو کې د AUPP تګلاره د لوړې اغیزې درلودونکې ده. په دې توګه، AUPP په ښاري سیمو کې د بشري خوندیتوب لپاره یوه کاري اجنډا رامینځ ته کوي.

**نور نوښتونه:** د بنسټیزو پروژو په جوړولو، طرح کولو او پلې کولو کې د ټولنو هڅونکی ګډون او ونډه اخیستنه ډیر وختونه په پروژو کې د نورو نوښتونو امکانات برابر او د کوچنیانو، ښځو، ملکي او پولیس کارکوونکو ته یې د نورو خوندیتوبونو بنې رامینځ ته کړې دي. په نوموړو نوښتونو کې د ښځو او ماشومانو لپاره ناست ځایونه، لوبغالي او د سپورت ځایونه، په سړکونو کې د ټولو لپاره څراغونه، د کورنیو لپاره پارکونه، د نارینو او ښځو لپاره ګډې سیمې، یا یوازې د ښځو لپاره د پارکونو مرکزونه، او د پولیسو د ګزمو لپاره لوی سړکونه او داسې نورې آسانتیاوې شاملې دي.

**په ښاري ټولنو کې د یووالي او مرستې لوړوالی:** څیړنې داسې نښې وموندلې چې په ښارونو کې د وګړو ترمینځ یووالی په هغو سیمو کې ټینګ شوی دی چې د مختلفو جغرافیاوي، ژبنیو او توکمیزو ډلو ډیر میشتیدل ئې تجربه کړې دي. ددې ترڅنګ د ټولنې د غړو، ښځو او نارینه وو ترمینځ باور، چې د AUPP له مداخلو څخه پخوا ئې له یو بل سره محدودې اړیکې درلودې، ډیری شوی دی. دی موضوع ددې لامل برابر کړی دی چې د ښاروالۍ او پولیسو د کارکوونکو ترمینځ په ټولنه کې دوه اړخیزه اړیکې ډیرې شي. ښځو او نجونو د خوندیتوب لپاره د اقدامونو د پراخیدلو لپاره خپل غږونه پورته کړې دي. په ټولنه کې له یو بل سره مرستو پراختیا موندلې ده. د بیلګې په توګه، د ټولنې استازو دا وړتیا موندلې ده چې له ځوانانو سره کار وکړي، ترڅو په سړکونو کې له داسې کړنو څخه ځان وساتي چې د نجونو او ښځو د ځورونې لامل برابروي. کله چې پروژی(لکه د اوبو رسولو پروژی) په ټولنو کې دوه اړخیزې اړیکې ټینګې کړې نو د ټولنو ترمینځ هم همکارۍ زیاتوالی موندلی دی.

**د ښاروالۍ او پولیسو له کارکوونکو سره د همکارۍ پیاوړي کول:**

مرکې او سندونو پراخ شواهد وړاندې کوي چې د ټولنو او سیمه ایزه حکومتولې د چارواکو ترمینځ همکارۍ ښه والی موندلی دی. د سلاګانو او نورو دوه اړخیزه کړنو په پایله کې، د ټولنو غړو دا پیاوړتیا پیدا کړې ده چې د ولسوالیو (ناحیو) پولیس او د ښاروالیو اړوند کار کوونکې دې ته اړ کړې ترڅو د ضایعاتو بشپړ مدیریت په غاړه واخلي. له بلې خوا، د پولیسو کارکوونکو د ټولنې له استازو څخه غوښتنه کړې ده چې د سړکونو د ښو ګزمو په اړه د سړکونو د څراغونو د ښه والي له لارې، له هغوی سره مرسته وکړي. په پای کې، ځانګړي شواهد ښیې چې د ټیټې کچې پولیسو او د ښاروالیو کارکوونکو له خوا په تیره بیا کورجوړولو ته د اجازې ورکولو له لارې د بډو اخیستل هغه وخت له مینځه ولاړل چې د ټولنې مشرانو د پولیسو او ښاروالیو د لوړې کچو چارواکو سره منظمې اړیکې رامینځ ته کړې.

**د خدمتونو په وړاندې کولو او د کارکوونکو له خوا په ځواب ورکولو کې اغیزمنتوب:** په یوې بیلګې کې، په یوه مشخصه سیمه کی د جامدو کثافاتو په راټولولو کې د نوو نوښتونو له لارې د ښاروالۍ د کارکوونکو اغیزمنتوب څرګند کړ. د کثافاتو لپاره د ځانګړو ځایونو ټاکل د لومړي ځل لپاره په کورنیو کې د مسؤلیت داسې احساس رامینځ ته کړ چې نور په هره کوڅه کې د کثافاتو له اچولو څخه ډډه وکړي. د ټولنې مشرانو دا دنده په غاړه واخیستله چې له کثافاتو څخه د ځانګړو ځایونو له ډکیدلو سره سم د ښاروالیو کار کوونکو ته خبر ورکړي. د ټولنې له خوا ددې ډول کار په غاړه اخیستل د ښاروالۍ د ناحیو کارکوونکې وهڅول چې د کثافاتو په راټولولو کې خپلې دندې په ښه توګه ترسره کړي. په دې ډول د ښاروالیو د کارکونکو کړنی هم ښې شوی، ځکه چې نور هغوی اړ نه وو چې کثافات له مختلفو ځایونو څخه راټول کړي. په ټولیزه توګه، په بنسټیزو جوړښتونو کې ښه والی ډیر وختونه د کارکوونکو لپاره هغو سیمو ته د خدمتونو په رسولو لکه د امبولانسونو تګ، د پولیسو ګزمو، او اور وژنې لپاره آسانتیاوې برابرې کړې دي چې ټولنې هلته ژوند کوي.

**بنسټ جوړونه او پایښت:** AUPP له ملی بودجې څخه یو وتلی او جلا پروګرام دی. که چیرې نوموړی پروګرام په بودجه کې شامل وای، نو ښاروالیو، د مهمو کلیدي پلې کوونکو په توګه، د خدمتونو د وړاندې کولو، اداري، نظارت کولو، عامه پوهاوي او ځواب ورکولو د تمویل له کبله له ډیرو ننګونو سره مخامخ وای. AUPP، تر اوسه پورې، په روزنیزو چارو کې د کارکوونکو د وړتیا په لوړولو کې پر ورکشاپونو باندې تمرکز کړی ده چې پایله به ئې د بنسټیز ظرفیت لپاره ګټوره نه وي. خو هغه د ښار د حکومت (ښاروالی) د مالکیت ښه کچه، چې په ښارونو کې توپیر کوي، په لاس کې لري. په دې ډول AUPP په ښاروالۍ کې د مشورتي بورډونو د رامینځ ته کولو له لارې، په بنسټ جوړونه کې ښکیلتیا پیل کړی ده. خو، د ښاروالیو په کارونو کې د AUPP د موخو بنسټیز کول نورو ګامونو ته هم اړتیا لري. په ښاروالیو کې د ملاتړ ځینې کارونو ته اړتیا شته چې د زیربنائي پروژو د راتلونکې څارنې لپاره د پاملرنی په اړه د بودجې شتون ډاډمن کړي. سره له دې، د پروګرام پایښت داسې یوه موضوع ده چې نورې پاملرنې ته اړتیا لري.

**په ټولنه کې د بدشهرت او د بې باورۍ د خطرونو کمول:** ټولنیزه بې باوري چې په ځانګړو سیمو کې له ښاري نه خوندیتوب یا د وګړو له ځانګړو ډلو سره تړاو لري په پرمختللي توګه له مینځه تللي ده. خو، ځواب ورکوونکو هم دا خبره منله چې هغه سیمې چې ناامنه ګڼل شوي وي د AUPP د نوښتونو په پایله کې خپل خوندیتوب لاس ته راوړی ده او د هغو کورنیو د بیرته راتګ لپاره ئې امکانات برابر کړي دي، چې تښتیدلي وي.

**ښاري خوندیتوب د اقتصادي ودې د هڅونکې په توګه:** ډیرو ځواب ورکوونکو باور درلود چې اقتصادي فعالیت د خوندیتوب د ډیریدلو د پایلې په توګه وده کړې ده. هغه سړکونه چې د څراغونو له کبله رڼا شوي دي د ټولنیز ژوند په سیمو ئې بدلون موندلی دی، په داسې حال کې چې پخوا داسې نه وو. په پایله کې، هټۍ، رستورانتونه، څښاکي توکي او د شیریخ خرڅونکي، درملتونونه او د زده کړو مرکزونه کولای شي تر ډیر وخت پورې کار وکړي او کورنۍ خپلو لوڼو او زامنو ته اجازه ورکوي چې د شپې له خوا ناوخته خپلو کورونو ته راشي. په هر صورت د ودې او ښاري خوندیتوب ترمنځ اړیکې لا هم ډیرې توضیح ته اړتیا لري.

**ښاري خوندیتوب د ذهنیت بدلون غواړي، چې وخت نیسي.** ښاري پیرودنه په ښارونو کې توپیر لري. په داسې حال کې چې د پالیسي چاپیریال د پروګرام له موخې څخه ملاتړ کوي، اداري چارې ډیر وختونه د ټولنې له خوا تعریف شوي خوندیتوب سره اختلاف او مقاومت ښیي. ډیری وختونه، د ښاروالي کارکوونکي نه غواړي له زیان منونکو ډلو لکه داخلي بې ځایه شوو وګړو سره د هغوی د میشت کولو د مشروعیت د ویرې له کبله؛ ښکیل ښي. په ټولیزه توګه، ښاروالان د **ښاروالۍ له مشورتي بورډونو** څخه ځان ساتي، ځکه چې نوموړي بورډونه ځان د ځینې پروګرامونو لکه AUPP نه بیلیدونکې برخه ګڼي. ښځې ډیر وختونه د ښاري نه خوندیتوب له امله اغیزمنې کیږي. خو، ښاروالۍ ښځینه کارکوونکې نه لري نو ځکه د هغوی غږ او غوښتنو ته لږ ځواب ورکوي. پولیس ته د رسیدلو لپاره ډیری وختونه د حل هغه پایلې نه لري چې د خوندیتوب په اړه د ښځو له غوښتنو سره اړخ ولګوي.

## سپارښتنې

**په ښاري پروګرامونو کې د ښاري خوندیتوب ځایول:** ښاري خوندیتوب اوس اوس په ښاري پالیسیو کې ځانګړی ځای لري. خو، ښائي په ښاري پروګرامونو کې د ملی بودجې څخه بهر او په بودجې کې دننه ځای ورکړل شي. خوندیتوب ته پاملرنې د ښاریانو او دولت ترمنځ د باور په رامینځ ته کولو کې عمده ونډه لري او دا هغه موخه ګڼل کیږي چې ډیر پروګرامونه ئې په لټه کې دي. AUPP هغه زده کړی او تجربې وړاندې کوي چې کیدای شي په ډیرو پروګرامونو کې شاملې شي.

**د ښاري خوندیتوب او ودې ترمینځ د اړیکو پلټنه:** په افغانستان کې لاتراوسه د ښاري خوندیتوب او ودې ترمینځ دوه اړخیزه اړیکې لټول شوي نه دي. د شواهدو د ټولولو لپاره د دواړو ترمینځ د اړیکو د پیژندلو لپاره نورو څیړنو ته اړتیا لیدل کیږي.

**د ښوونې او روزنې او ښاري خوندیتوب ترمنیځ د اړیکو پلټل:** اوسنۍ بیاکتنه ځینې شواهد وړاندې کوي چې په تیره بیا د ځوان نسل لپاره د وخت او چاپیریال د ډیریدلو له لاری د زده کړې فرصتونو پراختیا موندلې ده. د کورنیو له خوا په سړکونو کې د برق د څراغونو ډیروالی دا هیله رامینځ ته کړې ده چې کوچنیان کولای شي د شپې له خوا تر ناوخته پورې ټولګیو ته ولاړ شي. زده کړې ته د لاسرسۍ او ښاري خوندیتوب ترمینځ د اړیکو د پیژندنې لپاره ځانګړو څیړنو ته بیاهم اړتیا لیدل کیږي.

**د ښاري خوندیتوب او خدمتونو د وړاندې کولو ترمینځ د اړیکو څیړنه:** بیا کتنه ښیي چې د خدمتونه وړاندې کولو هغه وخت لا ډیره اغیزه او نظم پیدا کړ چې کارکوونکی لا ډیر ځواب ورکوونکي شوي دي. اړتیا لیدل کیږي چې د پروګرام دا اړخ په هره ټولنه کې ولټول شي.

**ښاري خوندیتوب او د عوایدو تولید:** بیاکتنې دا حقیقت هم موندلی دی چې د خوندیتوب پروژو د ښاروالي په ادارو کې د کورونو ثبت کول ترسره کړي او په دې توګه ئې د مالیاتو کچه لوړه کړې ده. اړتیا شتون لري چې دا اړیکه له ځانګړو بیلګو څخه جلا وڅیړل شي.

**له مالوماتي تکنالوژۍ څخه ښه ګټه اخیستنه:** راتلونکي پروګرامونه اړ دي چې مالوماتي تکنالوژي په ښه توګه وکاروي. دا خبره په تیره بیا په ښاري ځوانانو پورې خورا ډیره اړه لري چې اوس هم په منظمه توګه له ټولنیزو رسنیو او ډیجیتل تکنالوژیو څخه کار اخلي، خو افغان حکومت هم باید د پرانیستی حکومت شراکت په شرایطو کې له مالوماتي تکنالوژۍ څخه قانوني مالوماتو ته د لاس موندنې لپاره ګټه پورته کړي. کیدای شي له تکنالوژۍ څخه په سړکونو کې د ځورونې پر ضد، د جرمونو په راپور ورکولو کې، د ښاروالۍ د مداخلو او غوښتنو په اړه، د خدمتونو د وړاندې کولو په ښه والي یا بیرته تغذیه کولو کې، کار واخیستل شي.

**د ځوانانو او نورو زیان منونکو ډلو ترمینځ ښه همغږي:** ځوانان د کلیوالو سیمو په پرتله د ښاري سیمو لوړه برخه جوړوي. هغوي په ښاري خوندیتوب کې له ځانګړو ستونزو سره مخامخ دي چې یوازې د ټولنې پربنسټ ولاړو کړو وړو سره حل کیدای نشي: د بیلګې په توګه، ځوانان چې د لوړو زده کړو او دندو پیدا کولو لپاره ښارونو ته راځي، ډیری وخت په لیلیه کې ژوند کوي. دا موضوع د داخلي بېځایه شوو کسانو لپاره هم همدا ډول ده. نو ځکه، دا ډول زیان منونکې ډلې باید د پروګرام مفکورې چې د هغوي زیان منې ته ښه ځواب ورکوي، په ښه توګه وپیژني.

**د ښاري خوندیتوب د پروګرامونو د پایلو او ظرفیتونو ښه پیژندل:** AUPP او ورته پروګرامونه اړ دي چې د ښاري خوندیتوب د پایلو او ظرفیت په اړه ښه مالومات برابرکړي ترڅو نورې ټولنې او د حکومت کار کوونکي پوره پوهاوی ترلاسه کړي او ورته تګلاری جوړې کړي.

**د ظرفیت لوړولو لارښود نوښت:** دا خبره د ښاروالي او پولیسو په کارکوونکو پورې اړه لري چې د ښاری خوندیتوب پروګرامونه په مفهوم ښه وپوهیږي او هغو ته په خپلو کارونو کې ځای ورکړي. اوسنیو هڅو، د وړتیا لوړوالی د روزنیزو ورکشاپونو د بی اغیزو مفاهیمو له لیاری محدود او کمزوری کړی ده. راتلونکي پروګرامونه اړ دی چی له حکومت سره یو ځای داسې حیاتی حل لاري ولټوي چې په اړوندو انستیټونو کې د ښاري خوندیتوب لپاره بشري او جوړښتیز ظرفیتونه را مینځ ته کړي.

**د ښاري خونديتوب لپاره پاېښت لرونکی اداري ظرفيت:** د کوچنيو کچې بنسټيزو ودانيو له جوړولو او روزنېزو پروګرامونو څخه وروسته ، AUPP کولای شي د جوړښتيزو او بشري ظرفيت جوړونې له لارې د يو شمير ښاروالېو د کارکوونکو لپاره د ظرفيت جوړونې د بشپړ پلې کولو دنده پر غاړه واخلي، خو پر اداری او نظارتی دندو کې د کنټرول ساتل لږ تر لږه په نښه شوو ښاروالیو کې تر هغه پورې اړين ګڼل کيږي چې د امانت ساتلو او اعتبار په وړاندې خطرونه لږ ښي. له تجربې او لاربنود څخه زده شوي درسونه به د اندازه کولو لپاره وکارول شي.

**د ښاري خونديتوب د ساحې پراخول:** AUPP دا وړتيا لري چې د خونديتوب په وړاندې څو اړخيزه خطرونه وپيژني. په هر صورت، ډير داسې خطرونه لکه د بريښنا لوڅو کيبلونو خطرونه يا د ګازو د ډبو په احتمالي انفجارونو باندې رڼا نه ده اچول شوې. برسيره پر دې، کیدای شي ټولنو ته د پوهې د ورکولو دا اړتيا شتون ولري چې د چاپيريال د خونديتوب خطرونه لږ دي، او کیدای شي سيمه ایزه درملنه اغيزمنه وي.

**په پروګرام کې د همغږۍ لوړول:** د ښاري حکومتولۍ ډير څو اړخيزه پروګرامونه شته دی چې په اغیزمنه توګه همغږۍ ته اړتيا لري. ډير خلک د يو بل کارونو له تفصيلاتو څخه خبر نه دي. کيدای شي هغوی د زده کړو په غونډو کې سره يو ځای شي. **تخنيکي کاري ډلې** کولای شي ډير وختونه له يو بل سره د بيلګې په توګه د همغږۍ د آنلاين پروګرامونو له لیارې اړیکې ونیسي. پروګرامونه کولای شي (Geospatial) جيو سپاشيل مالومات په ډيټابيس کې ځای پرځای کړي. لږ تر لږه، تازه نقشه به دا خبره روښانه کړي چې څوک څه وخت او چيرې څه کوي.

هغه نظريات چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوي په ليکوال پورې اړه لري او د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د نظرياتو منعکس کونکې ندی.

| | |
|---|---|
| د خپرونې کوډ: | ۱۸۰۲P |
| مترجم: | کاظم ملوان |

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد (AREU) په اړه:

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې د څېړنې يو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالی ټولنی له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنی او ارزونی واحد موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کيفيت او په پالیسی پوری اړوند څېړنی برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پايلو نشرول او همداسی د شواهدو پر بنسټ د څېړنې او زده کړې د کلتور خپرول دی. د پنسيلوانيا دپوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په افغانستان کی د يوو څېړنيز بنسټ په توګه دلوړ مقام لرونکی دی او په منځنی آسیا کی د څېړنيزو بنسټونو په منځ کی په پنځمه کچه او په نړۍ کی د لوړمقام لرونکو څېړنيزو ادارو په کتار کی ځای لری. د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد د خپلې موخې دلاسته راوړلو لپاره د پاليسيو جوړونکو، مدني ټولنې، څیړونکو او اکاډميک شنونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد له څېړنو او کتابتونه کار واخلي او د څېړنې په برخه کی خپله وړتيا لوړه کړي او د نظرياتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنی او ارزونی واحد د مشرانو د بورډ لخوا چی د مرستندويه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینی نوروسازمانونو، مدنی ټولنی او دخپلواکو کارپوهانو استازی په کی شامل دی، اداره کيږی.

**تمويلونکي:**

د دی اداری تمویلونکی د سویدن نړیواله انکشافی اداره (SIDA) او لاندی نور نړیواله بنسټونه دی:

The European Commission (EC), United States Institute of Peace (USIP), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Overseas Development Institute (ODI-UK), Promundo (US), Sustainable Development Policy Institute (SDPI), Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC), Institute of Development Studies (IDS) and Swiss Agency for Development and Cooperation(SDC), School of Oriental and African Studies (SOAS), Economic and Social Research Council United Kingdom (ESRC-UK) and South Asian Association for Regional Cooperation (SAARC).

همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:

Resolve Network,Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), Global Challenges research Fund (GCRF), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK) Leveraging Agriculture for Nutrition in South Asia (LANSA), Environmental Natural Resources Monitoring Network (ENRMN), Mining Watch Afghanistan